ليکوال: هانس کريستيان اندرسن ۲۰۱۵/۰۹/۱۱
ژباړونکی: آصف بهاند

# د ايلی بد رنګه چورګوړی

## (Den grimme ælling )

### لومړی برخه

اوړی و، په کلي کې هر څه ډېر ښکلي وو. غنمو رنګ اړولی و، وربشۍ شنې وې، په چمنونو کې واښه له خيال نه دانګي وانګي پراته وو، ډينګان(لک لک) په خپلو اوږدو سرو لينګيو ولاړ او په مصري ژبه يې خبرې کولې، هغه ژبه چې له مور نه يې زده کړې وه. د چمنونو او شنو جلګو شاوخوا کې لوی ځنګلونه ولاړ وو او د ځنګلونو په منځ کې ژور سيندونه وو. هوکې، په کلي کې هر څه ښکلي وو! د لمر تر وړانګو لاندې ديوه شتمن(ارباب) کور و چې چار چاپېره يو ژور خندک ور نه را تاو و. د کور له ديوالونو نه د اوبو تر څنډې پورې د بابا آدم بوټي(ډنمارکي کلمه) پاڼي شنې شوې وې او دومره جګې شوي وې چې واړه ماشومان تر پاڼو لاندې دريدلای شول. دا ځای داسې ګڼ و لکه وحشي. هلته يوه بتکه په خپله ځاله کې ناسته وه او له هګۍ نه د خپل بچي را وتلو ته سترګې په لاره وه. ډېر انتظار ستړې کړې وه، خو د بچي د را وتلو پته نه لګېده. نورې بتکې د دې په غم کې نه وې چې راشي دې سترګې په لارې مرغاوۍ ته د بوټو تر پاڼو لاندې سندرې وبولي، هغوی کرار د اوبو پر سر رواني وې.
په پای کې هګۍ پر له پسې ماتيدلې. غړ شو کړاغ کړاغ او ټولې هګۍ ژوندۍ شوې او چورګوړو خپل سرونه د باندې را ويستل.
بتکې و ويل:«قُت، قُت!» د وړو چورګوړو بوازينی کار چې زده و دا و چې د جيک جيک نرۍ غږ وباسي او تر شنو پاڼو لاندې هرې خوا ته وګوري. مور يې اجازه ورکړه، څومره چې يې زړونه غواړي، ودې ګوري ځکه چې شين رنګ سترګو ته ګټه لري.
د بتکې چورګوړو و ويل:«دنيا څومره لويه ده!»
او اوس دوی په داسې ځای کې وو چې له پخواني ځای سره يې ډېر توپير درلود، دوی پخوا د هګيوو په منځ کې ويده وو.
د چورګوړو مور و ويل:«داسې فکر مه کوئ چې ټوله نړۍ همدا ده. دنيا د بوې اوږدې لارې په شان د بڼ د هغه لوري ته هم غځيدلې ده، آن د کشيش تر ښونځي پورې، خو زه تر اوسه هلته نه يم تللې! زه هيله لرم چې تاسې هم همدلته پاتې شئ!»
بيا له ځايه جګه شوه پښو لاندې يې وکتل او وې ويل:«نه، تر اوسه ټول له هګيوو نه دي را وتلي، لويه هګۍ تر اوسه ځای پر ځای ده، څومره نور وخت به ولګيږي، نوره ستړې يم!» او بيا پر هګۍ کيناسته.
زړه بتکه يې چې ليدلو ته راغلې وه، و ويل:«ښه، اوضاع څنګه ده؟»
بتکه په داسې حال کې چې پر هګۍ ناسته وه، و ويل:«دې يوې هګۍ سره لکه يوه پيړۍ وخت پسې اوږديږي، حتی نه شي کيدای چې سوری شي، هغوی ته وګوره، دا تر ټولو ښکلي چورګوړي دي چې تر اوسه پورې ما ليدلي دي! هغوی ټول خپل پلار ته پاتې کيږي، هغه نا ولی هيڅکله زما ليدلو ته نه راځي!»
زړې بتکې و ويل:«پرېږده چې دا روغه هګۍ يو ځلي وګورم. دا د فيل مرغ هګۍ ده. ما ته هم يو ځلي همداسې را پيښه شوې وه، ته نه پوهيږې چې زه چورګوړو سره څومره په تکليف شوم! هغوی له اوبو نه ډېر ويريدل، نه مې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په خير و لولئ

شول کولای چې هغوی د باندې وباسم. پر له پسې مې قُت قُت او تق تق کول، خو ګټه يې نه کوله. پريږده چې وې ګورم. بلې! بيخي د فيل مرغ هګۍ ده. دا همدلته پريږده او نورو ماشومانو ته لمبل ورزده کړه.»
بتکې و ويل:«لږ به نوره هم ورباندې کينم، ډير وخت شو چې دلته ناسته يم، کولای شم لږه نوره هم ور باندې کينم.»
زړې بتکې و ويل:«څنګه دې زړه غواړي.» او نوره په خپله مخه ولاړه.
او په پای کې لويه هګۍ هم ماته شوه. څنګه چې چورګوړی له هګۍ نه را و وت، وې ويل:«پيپ! پيپ!» ډير غټ او بد شکله چور ګوړی و. بتکې هغه ته وکتل او وې ويل:«عجيب ډارونکی غټ چورګوړی دی! يو زره هم دا نورو ته نه پاتې کيږي. حتمي به د فيل مرغ چورګوړی نه وي. ښه ډير ښه، ډير ژر به پوه شم! بايد اوبو ته لاړ شي، حتی که اړوزم په لغته يې هم اوبو ته غورځوم!»
يوه ورځ وروسته ډيره ښه هوا وه. د اوبو په اړخ کې د لويو پاڼو باندې لمر ځليده. بتکه له خپلو ټولو چورګوړو سره د ډنډ د اوبو په لوري وخوځيده. سړپ شو او مور اوبو ته ور ګډه شوه او وې ويل:«قُت! قُت! او چورګوړو يو په بل پسې ځانونه اوبو ته ور وغورځول. اوبه يې سر پورې ورسيدې، خو بيا نيغ پاس راغلل ، خپلې پښې يې خوځولې او په ښايسته ډول د اوبو پر سر مخ پر وړاندې ولاړل، او بد شکله خړ چورګوړی هم له نورو سره په لمبلو لمبلو روان و.
بتکې له ځان سره و ويل:«نه، دا فيل مرغ نه دی. وګورئ خپلې پښې څومره ښې کاروي! څنګه ځان نيغ د اوبو پر سر ساتي! زما خپل ښکلی چورګوړی دی! که ښه ورته وليدل شي، دومره بد رنګه هم نه دی. قُت! قُت! اوس له ما سره راځئ، تاسو يوې دنيا ته بيايم او د بتکو بڼ کې مو نورو ته ور پيژنم، خو هر کله به ما ته نږدې اوسئ چې څوک مو پښو لاندې نه کړي. پيشکې ته مو هم پام وي!»
او بيا د بتکو بڼ ته ورغلل. هلته ډارونکې غږونه وو. د دوو کورنيو د مار ماهي پر سر باندې دعوا کوله، خو په پای کې يوې پيشکې هغه تر لاسه کړ او وتښتيده.
څنګه چې د چورګوړو مور هم د ماهي د ککرې په فکر کې وه، نو خپله ټونګه(منقار) يې و څټله او وې ويل:«وګورې! د دنيا کار دغسې دی!» بيا يې خبره داسې وغځوله:«وښورئ، پښې مو و خوځوئ، داسې يې و ښيئ چې کولای شئ د بتکې غږ ايستلای شئ، خپله غاړه هغې مشرې بتکې ته ټيټه کړئ! هغه د دې ځای تر ټولو ښه موجود دی! هغه اسپانوی وينه لري، د همدې له پاره هغه غټه او درنه ده. تاسو وګورئ، هغه سره جنډه يې چې په پښو پورې تړلې ده، د ځانګړيتوب نښه يې ده، دا نښه څوک نه شي ور نه اخستلای، دا هغه څه دي چې هغه له نورو خلکو او نورو ځارويو جلا کوي! غږ وباسئ! ګوتې مو مه خوشې کوئ! يو روزل شوی چورګوړی لکه خپل مور او پلار خپلې پښې يو له بل نه لږ لرې نيسي! اوس مو خپله غاړه ټيټه ونيسئ او و وايئ: قُت!»
چورګوړو هم هماغه کار وکړ چې ورته ويل شوی و. نورې بتکې چې هلته را ټولې شوې وې کتل يې او په لوړ غږ يې ويل:«وګورئ! لکه چې تر اوسه پورې موږ ډير لږ وو، اوس به موږ يوه ډله شو. وګورئ هغه بل چورګوړی څه ډول دی! نور هغه نه شو زغملای!» يوه بتکه والوتله او د يوې بلې غاړه يې په غاښ کړه.
د چورګوړو مور نارې کړې:«خوشې يې کړئ، هغه څه نه دي کړي!»
په غاښ کوونکې بتکې و ويل:«نه، هغه ډير غټ او عجيب شی دی، بايد تنبه کړای شي!»
مشرې بتکې چې سره جنډه يې په پښه پورې تړلې وه ، و ويل:«دا بتکه ښايسته بچيان لري، پرته له دا يوه نه، نور ټول يو له بل نه ښکلي دي. دې به هم چانس نه درلود، ډيره خواشينونکې ده چې بيرته يې نه شي سمولای!»
د چورګوړو مور و ويل::«دا چې يو چورګوړی نورو غوندې ښايسته نه دی، اوس څه نه شو کولای، خو ښه خوی او عادت لري په اوبو کې تلای شي او حتی له نورو نه ښه، فکر کوم د لوييدو په لړ کې ښکلی شوی هم دی، ډير به يې وجود غټ هم نه شي. کله چې په هګۍ کې و، ډير اوږد و، د همدې له پاره يې و نه شو کړای چې يوه ښه بڼه ولري!»
کله چې د چورګوړو مور دا خبرې کولې، د بد شکله چورګوړي غاړه يې پاکوله او اضافي بڼکې يې ښکته تويولې‌او داسې يې زياته کړه:«له دې نه پرته ډيره مهمه نه ده، ځکه چې هغه يو نارينه چورګوړی دی. فکر کوم چې هغه به په پوره اندازه قوي شي چې ځان ښه وځلوي!»
مشرې بتکې و ويل:«نور چورګوړي زړه وړونکي دي، داسې يې و انګيرئ چې خپل کور مو دی، که مو د مار ماهي ککره پيدا کړه، کولای شئ ما ته يې راوړئ!»
همداسې و لکه خپل کور کې چې وي.

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

خو دا چورګوړی چي له ټولو نه وروسته له هګۍ نه راوتلی و او لږ بد شکله هم و، نورو بتکو، چرګو اوچرګانو به په ټونګه باندې سکونده، ټیله کاوه به یې او مسخرې به یې ور پورې کولې او ټولو به ویل:«ډیر غټ دی!»
یو بل فیل مرغ چي فکر یې کاوه چي کوم اوسپنیز شی په پښو دنیا ته راغلی دی او ځان یې امپراتور ګاڼه، ځان یې لکه بادي کښتۍ پړسولی و، نیغ د بد رنګه چورګوړي خوا ته ورغی او دومره و ټقیده چي رنګ یې تک سور شو!
خوارکوټی بد رنګه چورګوړی نه پوهیده چي چیرې ولاړ شي او چیرې ودریږي. ډیر غمجن و، ځکه چي بد رنګه و او په کرونده کي د ټولو د خندا وړ.
لومړی ورځ دغسي تیره شوه او وروسته له هغه نوره پسي بد تره شوه. بد رنګه چورګوړی هر چا ټیله کاوه حتی خپل خویندې ورونه هم ور سره ښه نه وو او تل به یې ویل:«بد قواره مرغآوی، کاشکي پیشکي ته په لاس ورغلی وای!» مور به یې ویل:«کاشکې ته نه وای!» نورو چورګوړو به سکونده، مرغانو به په ټونګه باندې واهه او هغې نجلی به چي څارویو ته د خواړه اچول، دې ته به یې لغته ورکوله.
یوه ورځ چي خپلې سترګې یې ټرلې وې منډه یې کړه او د دیوال د لرګیو له سر نه داسي والوت چي د بوټو په منځ کي نور واړه الوتونکي له ډار نه هوا ته والوزول او له ځان سره یې و ویل:«د دې له پاره چي زه ډیر بد شکله یم!» هغه لاړ او داسي یوه ډنډ ته ورسید چي هلته وحشي بتکو ژوند کاوه. ډیر ستړی ستومانه و، ټوله شپه هلته ویده شو.
سبا سهار ته، کله چي وحشي بتکي راغلې، خپل نوي ملګري ته یې وکتل او وې پوښته:«ته څه شی یې؟»
ښکلي بتکي شاو خوا کتل، تر څو یې کولای شول درناوی یې وکړ.
وحشي بتکو و ویل:«ته په رښتیا بد رنګه یې! خو موږ ته مهمه نه ده تر، هغو چي تا زموږ په کورنی کي واده نه وي کړی!»
خوارکوټی چورګوړی! هغه لا د واده په باب فکر هم نه و کړی، یوازې دې بسنه کوله چي هغه پرینبودل شي چي د بوټو په منځ کي پاتې شي او د ډنډ له اوبو نه لږ وڅښي.
هغه دوې ورځې هلته پاتې شو، او بیا دوه نارینه وحشي زاڼي راغلې، هغوی هم څه موده وړاندې له هګۍ نه را وتلي وو، له همدې کبله ترو تازه او په ځان باندې ډاډه ښکاریدل.
هغوی و ویل:«ګوره اندیواله، ته سره له دې چي بد رنګه یې، خو په موږ به ګران یې! خوښه دې ده چي د یو مهاجر الوتونکي اوسې او له موږ سره والوزې؟ دلته نږدې یو بل ډنډ دی، هلته څه نورې ښایسته زړه وړونکي وحشي زاڼې ژوند کوي، ټولط ښځینه دي، کولای شې قُت قُت وکړې! ته کولای شې په همدې بده قواره خپل بخت هلته وآزمیې!»
«ښنګ! ښنګ!» نا څاپه د ډزو غږ شو او د دوو وحشي زاڼو مړي د د نیزار په منځ کي ولویدل او د ډنډ له اوبو سره وینې ګډې شوې. «ښنګ! ښنګ!» نورې ډزې هم وشوې او ټولي وحشي زاڼې د نیزار له منځ نه والوتلې او بیا هم د ډزو غږ شو. دا غټ ښکار و، ټول ښکاریان د ډنډ شاو خوا ته را ټول شوي وو، حتی ځینې ښکاریان د ونو په څانګو کي ناست وو او سم د نیزار له پاسه را وزوړند وو. د ونو په منځ کي شین لوګی خپور شو او د اوبو د پاسه معلق ودرید. د ختو اوچیکړو په منځ کي د ښکاري سپیو د تګ شرپهارې شو او د ډنډ په منځ کي ټول ولاړ بوټي له هر لوري وښوریدل. خوارکوټي وړوکي چورګوړي ته بد ډارونکی حالت پیښ و. سر یې را واړاوه چي وزره لاندې یې پټ کړي، خو نا څاپه یې خوا ته یو غټ سپی، له اوږدې را وتلې ژبې او رډو ډاروونکو سترګو سره ودرید. سپي مخامخ چورګوړي ته خپل اوربوز ټیټ کړ او خپل تیره غاښونه یې ور وښودل او پرته له دې چي چورګوړي ته څه و وایي، ځان یې و ښوراوه، له ځان نه یې اوبه و څنډلې او په خپله مخه ولاړ.

د لومړی برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ